مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۲/۱۶

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۶۱مه برخه

پیسې ګټه دونیاپرسته
زه پېغورونو ته تراوسه ناسته‌یمه

دواړه‌لاسونه رانه پرې‌کړۍ
چې د پردي‌جانان مې وروټکاونه

د جانان غمه نور مې پرېږده
شپه نیمايي شوه مزدورۍ ته سبا ځمه

د سندرغاړې جینۍ یار یم
هغهٔ تپه کړي، زهٔ لاسونه پرقوؤمه

په نوم دې زه بدنامه ګرځم
په دیدنو دې ګاونډیان مزې‌کوینه

د لنډیو د دې برخې له‌پاره دا نوې‌لنډۍ راټولې شوې دي:

د زړه پر باغ مې ږلۍ وشوه
کله به بیا سپرلۍ راځي، سپړې ګلونه

د جدايي ورځې دې شمارم
ټول تاریخونه مې پر زړهٔ لیکلي‌دینه

د سترګو تور لالي مې ورک دی
زرګر ته ناسته یم ځېره یې جوړومه

د بیوسۍ اخیرۍ حد دی
د زړه ټوټې له مجبورۍ دې هیرومه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**د يار يارۍ نه مې زړه تور کړه**
**خدايه سجدې به درته شپه ورځې کومه**

**د مسافرو ياري مهٔکړئ**
**سرې د زړه په رنځ اخته کړي، بيا ترې ځينه**

**د بېلتانه احسان راپورې**
**ما د لالي په قدر ورو ـ ورو پوهوينه**

**د مازديګر زېريه لمره**
**ژرپناه کېږه چې د يار ديدن ته ځمه**

**دواړهٔلاسونه رانه پرېکړئ**
**چې د پرديجانان مې وروټکاونه**

**د بېلتانه کال دې پورهٔشو**
**ستا د پنځو ورځو يارۍ پښېمانه کړمه**

**د جانان غمه نور مې پرېږده**
**شپه نيمايي شوه مزدورۍ ته سبا ځمه**

**د دروغجنو مخ دې تورشي**
**زه د لالي په غيږ کې چا ليدلې يمه**

**د تا په تش ديدن مې وژني**
**د ميرې لور يمه، لمن مې تورويـــــنه**

**ددکهَ کور درنه لوګۍشه**
**په پردۍ ژبه راته مهٔليکه خطونه**

**د ډاکترۍ ډيګري دې راوړه**
**د دولسمفارغــه نــهٔمېدرکـويـنــه**

**دا هم د تا د يارۍ ټس دی**
**لکه ماهي پر بيابان سلکۍ وهمه**

**د زړه له درده ټپي وايم**
**د جانان غم په زړګی وچ سيزلۍيمه**

**د سندرغارې جينۍ يار يم**
**هغهٔ ټپه کړي، زهٔ لاسونه پړقوؤمه**

**د ملنګۍجامو کې راشه**
**زه به په تورڅادر کې خير درو باسمه**

**د زړه زخمونه می تازه که**
**ليونۍ ستا کوڅې ته بيا راغلی يمه**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د زولنو غم راته وکړئ
د لیونتوب احوال مې نن‌سبا درځینه

د خوشحالی قسمت مې نه‌شته
غمه ډاډه راځه چې غاړه درکومه

د مدرسې طالب مې یارشو
چې څه ترې‌غواړم، مسلې راته‌کوینه

دومره بنېرې شکایت مه‌کره
یار مې تازه مرورشوی، مړ به شمه

پر ما دې وي، پر تا دې نه وي
سخته گرمي، د ژمي یخ، ساړه بادونه

په تا به وران‌کورگی اباد وي
پر ما به ناست وي د خپل قبر دېوالونه

پهٔ ازلي قلم مې بایلود
خوشي دعوه له بېلتانهٔ سره کومه

په‌نیمه‌شپه کې راپه‌زړه شوې
په غاښ مې وچیچل د صبرتعویزونه

په نوم دې زه بدنامه گرځم
په دیدنو دې گاونډیان مزې‌کوینه

په وس مې هېڅ هم پوره نه‌دي
له ډکوسترگو به دې سترگې واړومه

په خوله به جنگ درسره وکړم
د زړه کوڅې به درنه څنگه بېلومه

پرون، پرونه و پرون تېرشو
نن به د نن خبرې نوې، نوې کړونه

په نیمه‌شپه تېپه راوکړه
یار مې بایللی دی، یوازې ناسته‌یمه

پرځان مې تورڅادر راخپورکړ
د جدایی تبې دې بیا نیولی‌یمه

پر ما دې کړي، پر تا وشه
واړه دې مړه شه، غټ دې یوسه سیلابونه

پیسې گټه دونیاپرسته
زه پېغورونو ته تراوسه ناسته‌یمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په نیمه‌شپه راشه جانانه
خلک ویده دي، ستوري نه‌وايي حالونه

زما په حق کافره یاره
د بزرګۍ قیصې دې واورم، وخاندمه

زما ترې زړه کله صبرېږي
که غاښ یې‌وزي، مخ یې ګونځې، ګونځې‌شینه

زما نصیبه ګندېریه
نه دې څاروي خوري، نه دې سیند په څپو وړینه

زما دلالي صفت شروع دی
نجونو کې زه لکه سرداره ناسته‌یمه

زه یې د زړو په تول اخلم
جانان ته وایه که نازونه خرڅوینه

زما د زړه‌بازار دې ورانکړ
په دې ورانشوي بازار بیا راشه میئنه

زما یې هر ارمان زندی کـړ
زه به د کوم ارمان په سر چیغــې وهمه

زړه ته نږدې، له ځانه لرې
د کافر لورې زه دې روغ لیونی کړمه

زړه مې ځلورجایه سوری دی
هره‌ټوټه یـې د فـریـاد اوازکـویـنـه

زه د یورپ جنکی څه‌کړم
چې خره‌پـره پښتنه لیلا لرمه

زما ښایسته ځوانی زړیـږي
خدایه غریب جانان ته ورکړې دولتونه

رنګ بهٔ مې ولې نهٔ زیـړیـږي
چې غنم رنګ اشنا د کال پهٔ سفر ځینه

راشه د زړه علاج مې وکړه
نور د چیندرو پر کربنو مه‌وهه ټوپونه

چې زه او ته یې سره بېلکړو
ورکه پښتو شه، ورک یې دغه رواجونه

چې ما ویلای، خدای منلای
اوس به د پندې خېلخانې ښځینتنه وومه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولـئ

چې ورونه مري، خویندې دې مړې شي
بېوروره خور به ناز پر چا باندې کوینه

چې مسافر شي بیا بهٔ راشي
د تور لحد بندي خو بېرته نهراځینه

چې تورماښام شي، غم دې راشي
لکه مرغۍ چې ماښام شنيږوني ته ځینه

نیستۍ مې ځومره قدر کم کړ
چې یار مې وکسي، رانه لارې چپوینه

نه به دا ستا زړه پهکرار شي
نه به دا زما مینه پربلچا ماتهشینه

ځنګه دې مست په یارانه وم
ځنګه رنځور دې د بېلتونه په تبه کړمه

ځــومره سپیځلی منافق یم
د زړه غمونه په خندا کې پټومهٔ

ځنګه دې مست په یارانې وم
ځنګه رنځور دې د بېلتون په تبه شومه

ځوک چې له زړه نه یاري نهکړي
هسې د بــل زړګــی دې نــهازارویــنــه

بېګاه په خوب کې ژړا راغله
چې خبرېدم ګرېوان مې تول لوند کړیونه

بېګاه د یار کلي ته لاړم
په خندا لاړم، په ژړا ترې نه راتلمه

بې له تا مرمه، دا مې حال دی
لکه ماهي چې بېاوبو شي، اخر مرینه

بېورورهخور په کلي راغله
اواز یې وکړ چې د چا کره به ځمه

بې وسې دا ده، چې زما ده
غږ یې راځي دیوال ته ګونګه ناستهیمه

بنګړي دې اوس هم راسره دي
ماتېټوټې یې ښکولوم، ژړا راځینه

ښه ده چې تېرشوې سپیرهکاله
زه دې په اوښکوتویولو ستړېکړمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ښه شوه چې تا نه راپوره شوه
چې ملامته درته زه نهشـــوم مئينه

ښه ده چې تا لرمه خدايه
په بندهگانو به دې هسې نازېدمه

ما درته وې، نه دې منله
مينه اباده زندهگي بربادوينه

مخ مې د يار په خاورو خړدی
حاجت يې نهشته چې اوبه ورواچومه

مخامخ مهراځه شرمېږم
يمه خبره چې مې تا ته درکوينه

ما ته دې کور رامعلوم نه دی
پر ديوال سره لوپټه کېږده، در به شمه

اوس مې پرقبر داسې تاوشه
لکه په ژوند چې زه ترتا نه تاوېدمه

اخرزمان دغه ته وايي
مرورگرځم، څوک مې نهپخلاکوينه

کشره تر مشرې ښايسته ده
ظالمې مور يې په سيالـــۍ راوړيدينه

کهٔ د جهان طبيبان راشي
چې مې جانان پوښتنه نهٔ کړي. مړبهشمه

که د ديدن باران دې نهوای
د بېلتانه گرمۍ به سوې وو ملکونه

که مو ډيورنډ تر منځه نه وی
لکه ملنګ به دې کوڅه کې گرځيدمه

که په ژړا نصيب ښه کېږي
ما خپل سپيره نصيب ته ډېر ژړليدينه

کهٔ د جانان غمونه نهٔ وای
د پسرلي تر گل بهٔ زهٔ نازکه ومه

که ووايم دونيا خبرېږي
که غلیکېنم زړه مې پړق له غمه چوينه

يو دی ښائيست بله ځواني ده
مهرباني ده که می ومني سوالونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**يوځلې دېخوا نظروکړه**
**په تش‌کتو خو دې څوک نه‌حلالوينه**

**يا مې د سترګو نظر کم شو**
**يا مې جانان له مخه ونهٔ شرمېدنه**

**ته به مې کله، کله يادکړې**
**زه دې په زړه پورې ګنډلی ګرځومه**

**تا خو په‌خپله زه رخصت کړم**
**د پښېمانۍ اوښکې دې ولې پر مخ ځينه**

**ته له کابل نه ټپه وکه**
**زه پښور نه يا قربان درته کومه**

**وړوکی ما په يارۍ پوه‌کړ**
**اوس د بل يارۍ ته واجول لاسونه**

**ولاړه يم، لاړه به نه‌شـــم**
**تا به د زړه په رنځ اخته کړم، بيا به ځــمه**

**ورځه، ورځه په‌کار مې نه‌يې**
**موږ د کم‌اصلو خلکو نه‌کړو ارمانونه**

**ستايارانه د شمکې ده**
**شمکی تريخ دی، له ناکامه يې تېرومه**

**ستا به له ما نه ګيله کېږي**
**قسم دی ياره بنديوانه مې ساتينه**

**ستا يارانه اور او اوبه دي**
**اور مې سيزي، اوبه مې ښکته ډوبوېنه**

**ټوخی په ورو کړه، څه پېښ نه‌شي**
**مور مې ميره ده، اوس به نېغه‌تاسته‌وينه**

**ولې ريښتيا راباندې وايې**
**چې ودې نه‌وينم، نرۍ تبه مې وينه**

**ته مې د غېږې په ارمان يې**
**ما دې مرګي ته صدقې منلې‌دينه**

**ښه‌شوه چې تا نه راپوره شوه**
**چې ملامته درته زه نه‌شوم مئنه**

**ما د نبستيو زور ليدلی**
**ما اوررېدلي دي د خلکو پېغورونه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**هندوان غويي غوښې هم نهخوري**
**مسلمانان د خپلو وروڼو غوښېخورينه**

**هلته مې بل په ژوند راګډ دی**
**دلته مې نوک له غوښې څنګه واړومه**

**له ادمزادو نه بېزاريم**
**نور به لېوان په ياری نهنيسم مينه**

**لالی د بدو سړی نهدی**
**د بل په خوله چارې کوي، ما غرقوينه**

**جانانه غم دې سورکافر دی**
**په ما د ژمی شپې په ويښه تيروينه**

**ځان ليونی که، دېخوا راشه**
**په ليونتوب کې به مې وکړې ديدنونه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ